مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

احسان الله ارینزی ٢٠١٩/٠٧/١١

# بېوسي

سخت شرمنده په دې دنيا به شمه
ګوره د خلکو د خندا به شمه

نه مسلمان او نه کافر ښکارېږم
په خپله خاوره مساپر ښکارېږم
ښه ملامته او رسوا به شمه
ګوره د خلکو د خندا به شمه

ويده احساس ښه په نشه کې ډوب يم
د پردي جنګ په فلسفه کې ډوب يم
ساړه آهونه او واويلا به شمه
ګوره د خلکو د خندا به شمه

زه د ژوندون د ژوند سامان نه لرم
پښو لاندې ځمکه، پاس آسمان نه لرم
مرګ راپسې اخر فناه به شمه
ګوره د خلکو د خندا به شمه

د بېوسی ژوند په خوبو تېروم
خوږې لمحې په اندېښنو تېروم
شمع خو نه يم چې رڼا به شمه
ګوره د خلکو د خندا به شمه

مطفی پسرلی
10/07/2019


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ